**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو
د تألیف لوی ریاست

# حسن خط




## پنځم ټولګی

**د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ ش**

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري،
اخیستنه او خرڅونه یې په کلکه منع ده.
له سرغړونکو سره قانوني چلند کیږي.

moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، ګوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د
روزنې معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د
تالیف ریاست

# حسن خط

## پنځم ټولګی

سال چاپ: ۱۳۹۶ هـ.ش.

## مؤلفان

- محمد ظاهر طاهری
- عبدالجلیل آخندزاده
- سید انور میچنخیل

## د بیا کتنې کمیټه

- سید انور میچنخیل
- د سر مؤلف مرستیال محمد غالب الله یار

## علمي او مسلکي اډیټور

- عبدالجبار د هنرو او صنایع د انستیتیوت استاد

## د ژبې ایډیټ او ژباړه

- محمد قدوس زکوخیل

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه

- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په لوی ریاست کې، د پوهنې وزارت سلاکار
- مؤلف مولوی عبدالوکیل

## د څارنې کمېټه

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.
- دکتور محمد یوسف نیازي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست سرپرست

## طرح او ډیزاین

- محمد اشرف امین
- احمد فرهاد نوري

**د چاپ د سمون چارې**: محمد کبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس

# بسم الله الرحمن الرحیم
# د پوهنې د وزیر پیغام

د لوی خدای ډیر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر ګاڼه یې سمبال کړ. ډیر درود دې وي د اسلام پر ګران پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی او د رحمت، لارښوونې او روښنایی پیغام راوړونکی دی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهیر کې یو مهم رکن بلل کیږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کیږي. درسي کتابونه باید د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل، دیني او اخلاقي زده کړې د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولیږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړوي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنګ دودول، د هیواد پالنې او د مینې او محبت د حس پیاوړی کول، ښښنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښایي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای ټاکل شوې موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې یو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې یې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هیله لرم چې د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هیواد د زده کړې د نظام بری د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لا ښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړیوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ویش کې یې زیار ایستلی او مرسته یې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پایه مهربانی له موږ سره د پوهنې د سپیڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سمیع قریب مجیب.

د پوهنې وزیر
دوکتور اسدالله حنیف بلخي

# فهرست


| د لوست شمېر | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| | **لومړۍ څپرکی: نستعليق خط** | |
| ۱ | د (آ،ا) توري تېکي ايښودنه | ۲ |
| ۲ | د (ب) توري تېکي ايښودنه | ۳ |
| ۳ | د (ج) توري تېکي ايښودنه | ٤ |
| ٤ | د (د،ر) توري تېکي ايښودنه | ۵ |
| ۵ | د (س،ص) توري تېکي ايښودنه | ٦ |
| ٦ | د (ط) توري تېکي ايښودنه | ۷ |
| ۷ | د (ع) توري تېکي ايښودنه | ۸ |
| ۸ | د (ف) توري تېکي ايښودنه | ۹ |
| ۹ | د (ق) توري تېکي ايښودنه | ۱۰ |
| ۱۰ | د (ک) توري تېکي ايښودنه | ۱۱ |
| ۱۱ | د (ل) توري تېکي ايښودنه | ۱۲ |
| ۱۲ | د (م) توري تېکي ايښودنه | ۱۳ |
| ۱۳ | د (ن) توري تېکي ايښودنه | ۱٤ |
| ۱٤ | د (و) توري تېکي ايښودنه | ۱۵ |
| ۱۵ | د (ه) توري تېکي ايښودنه | ۱٦ |
| ۱٦ | د (ی) توري تېکي ايښودنه | ۱۷ |
| | **دويم څپر کی: دنستعليق خط څو حرفی کلمې** | |
| ۱۷ | د (آرامي) کلمې تېکي ايښودل | ۱۸ |
| ۱۸ | د (استقلال) کلمې تېکي ايښودل | ۱۹ |
| ۱۹ | د (باران) کلمې تېکي ايښودل | ۲۰ |
| ۲۰ | د (جهان) کلمې تېکي ايښودل | ۲۱ |
| ۲۱ | د (درمل) کلمې تېکي ايښودل | ۲۲ |
| ۲۲ | د (روښانيان) کلمې تېکي ايښودل | ۲۳ |
| ۲۳ | د (سمسور) کلمې تېکي ايښودل | ۲٤ |
| ۲٤ | د (صبر) کلمې تېکي ايښودل | ۲۵ |
| ۲۵ | د (طبيعت) کلمې تېکي ايښودل | ۲٦ |
| ۲٦ | د (عمل) کلمې تېکي ايښودل | ۲۷ |
| ۲۷ | د (فرهنگ) کلمې تېکي ايښودل | ۲۸ |
| ۲۸ | د (قلم) کلمې تېکي ايښودل | ۲۹ |

٢٩ د (کار) کلمې ټکي ايښودل ........................................ ٣٠
٣٠ د (لاله) کلمې ټکي ايښودل ........................................ ٣١
٣١ د (معلم) کلمې ټکي ايښودل ........................................ ٣٢
٣٢ د (نور) کلمې ټکي ايښودل ........................................ ٣٣
٣٣ د (وحدانيت) کلمې ټکي ايښودل ........................................ ٣٤
٣٤ د (همت) کلمې ټکي ايښودل ........................................ ٣٥
٣٥ د (ياالله) کلمې ټکي ايښودل ........................................ ٣٦

**دريم څپر کی: پر خط نستعليق د جملې ليکنه**

٣٦ د (آرامي)جملې ټکي ايښودل........................................٣٧
٣٧ د (استقلال)جملې ټکي ايښودل........................................٣٨
٣٨ د (باران)جملې ټکي ايښودل........................................٣٩
٣٩ د (جهان)جملې ټکي ايښودل........................................٤٠
٤٠ د (درمل)جملې ټکي ايښودل........................................٤١
٤١ د (روښانيان)جملې ټکي ايښودل........................................٤٢
٤٢ د (سمسور)جملې ټکي ايښودل........................................٤٣
٤٣ د (صبر)جملې ټکي ايښودل........................................٤٤
٤٤ د (طبيعت)جملې ټکي ايښودل........................................٤٥
٤٥ د (عمل)جملې ټکي ايښودل........................................٤٦
٤٦ د (فرهنگ)جملې ټکي ايښودل........................................٤٧
٤٧ د (قلم)جملې ټکي ايښودل........................................٤٨
٤٨ د (کار)جملې ټکي ايښودل........................................٤٩
٤٩ د (لاله)جملې ټکي ايښودل........................................٥٠
٥٠ د (معلم)جملې ټکي ايښودل........................................٥١
٥١ د (نور)جملې ټکي ايښودل........................................٥٢
٥٢ د (وحدانيت)جملې ټکي ايښودل........................................٥٣
٥٣ د (همت)جملې ټکي ايښودل........................................٥٤
٥٤ د (ياالله)جملې ټکي ايښودل........................................٥٥

**دويمه برخه**


٥٥ د حسن خط تدريس لارښوود ........................................٥٦-٦٧

**يادونه:** د هغو استاذانو لپاره چې د حسن خط د ښوولو د مضمون دنده په غاړه لري، خط د پيژندلو، اقسامو او د ښايسته ليکلو لپاره د وسايلو او لوازمو د پيژندلو په اړه څو ضروري ټکي د کتاب په پای ځای کې ځای شوي دي. هيله ده ښاغلي ښوونکي د تدريس پر محال تري لازمه گټه واخلي.



# لومړی څپرکی

**د نستعلیق خط  د الفبا تورو د ټکو ایښودلو بڼه**




**لومړی لوست**

## د (آ، ا) تورو د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (آ، ا) تورو له ټکو ایښودلو سره آشنا شي.

**پوښتنې**

څوک ویلای شي چې مد د کومو تورو پر سر لیکل کیږي؟
ستاسو په نظر په الف او مد کې څو ټکي ایښودل کیږي؟
ستاسو په نظر د(ا) توری له څو نقطو څخه جوړ شوی دی؟





**فعالیت**

پر کړکي قلم له پورتنی نموني سره سم د کرسي خط له پاسه د (الف مد، الف) ټکو ایښودلو ته په پاملرنې سره په کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

د کرسي خط له پاسه پر پنسل او یا خودکار قلم د (آ، ا) توري له پورتنی نموني سره سم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.کرسی مشق و تمرین کنید.

دویم لوست


## د (ب) توري د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د (ب) او هغې ته ورته تورو له ټکو ایښودلو سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ب) توری په څو حرکتونو کې مشق او له څو نقطوڅخه جوړ شوی دی؟

څه فکر کوئ چې د (ب) توری پر څو ډوله او څنګه خطاطي کیږي؟





**فعالیت**

د کرسي خط له پاسه پورتنی نمونه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**


پر پنسل او یا خودکار قلم د (ب) او هغې ته ورته توري په خپلوکتابچو کې څو واري تمرین او ټکي ورته کیږدئ.


**دريم لوست**

## د (ج) توری دټکو ايښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د (ج) توري په ټکو ايښودلو او خطاطۍ پوه شي.

**پوښتني**
کله مو د (ج) توری تمرين کړی دی؟
څه فکر کوئ چې د (ج) د توري په کورکې څو ټکي شتون لري؟





**فعاليت**
په خپلو ډلو کې د (ج) د توري د ټکو ايښودلو او خطاطۍ په اړوند بحث وکړئ، بيا يې د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**
پر پنسل او يا خودکار قلم د (ج) توری په خپلوکتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

## ځلورم لوست

# د (د) او (ر) تورو دټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (د او ر) تورو له ټکو ایښودلو سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتني**

کله مو په نستعلیق خط او کړکي قلم د (د) او (ر) تورو ټکي ایښي دي؟

تاسو ویلای شئ چې د (د) او (ر) په تورو کې څو ټکي ایښودل شوي دي؟



**فعالیت**



پر نستعلیق خط د پورتنیو نمونو او د هغو بنسټونو په اړوند په خپلو منځونو کې بحث و کړئ، وروسته یې پر کړکي قلم د کرسي خط له پاسه په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونې پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## پنځم لوست


## د (س او ص) تورو دټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (س او ص) تورو له ټکو ایښودلو سره بلد شي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ چې د (س) توری پر دندانو سربیره پر بله طریقه هم خطاطي کیږي، نورو کومو تورو ته ورته دی؟

کله مو د کرسي خط له پاسه د (س) توری په کش دار ډول او (ص) توری مو په نستعلیق خط د کرسي خط له پاسه خطاطي کړی دی؟



**فعالیت**



د کرسي خط له پاسه د دندانه لرونکي او کش دار (س) او (ص) تورو د خطاطۍ اوټکو ایښودلو په اړوند یو له بل سره بحث وکړئ، وروسته هغی ته په کړکي قلم ټکي ورکړئ.

**کورنۍ دنده**

د کرسي خط له پاسه پورتنۍ نمونې پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## شپږم لوست

# د (ط او ظ) تورو دټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط د (ط) او (ظ) تورو له ټکو ایښودلو سره بلد شي.

**پوښتني**

څه فکر کوئ، د (ط) توری له کوم توري وروسته راځي او څنګه يې ټکي ایښودل کیږي؟

کله مو د (ط) توری پر نستعلیق خط ټکي ایښودنه او خطاطي کړی ده؟







**فعالیت**

د (ط) توری د نستعلیق خط له اصولو سره سم د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم مشق کړئ.

**کورنی دنده**

د (ط) توری د نستعلیق خط له اصولو سره سم پر پنسل او خود کار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**اووم لوست**


## د (ع) توري دټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به پر نستعلیق خط د (ع) او (غ) تورو له ټکو ایښودلو او خطاطۍ سره آشنا شي.

**پوښتنې**

کله مو پر کړکي قلم د (ع) او (غ) تورو د ټکو ایښودنه کړې ده؟

ستاسو په نظر توري په څه شي اندازه کیږي؟





**فعالیت**

پورتنۍ نمونه پر کړکي قلم، د نستعلیق خط له اصولوسره سم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.


**اتم لوست**

## د (ف) توري د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط له اصولو سره سم د (ف) توري له ټکو ایښودلو سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې**
ستاسو په نظر د (ف) په توري کې څو ټکي ایښودل شوي دي؟
څه فکر کوئ د (ف) توری په څو طریقو خطاطي کیږي؟





**فعالیت**
د (ف) توري او د هغې دلیکلو په اړوند فکر وکړئ، بیا یې د نستعلیق خط له اصولو سره سم ټکي کیږدئ.

**کورنۍ دنده**

د (ف) توری پر پنسل او یا خودکار قلم او نستعلیق خط په خپلوکتابچو کې ولیکئ.


## نهم لوست


# د (ق) توري د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د نستعلیق خط له اصولو سره سم د کرسي خط پر مخ د (ق) توري په ټکو ایښودلو وپوهیږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د(ق) توري په خطاطي کې څو ټکي په پام کې نیول شوي دي؟
څه فکر کوئ چې د (ق) توری د کلمې په پیل او منځ کې کومه بڼه ځانته غوره کوي؟





**فعالیت**

د (ق) توري او د هغه د خطاطي په اړوند یو له بل سره بحث وکړئ، وروسته پورتنی نمونه پر کرکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه د کرسي خط پر مخ پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**لسم لوست**

## د (ک) او (گ) تورو دټکو اېښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ او نستعليق خط پر کړکي قلم د (ک او گ) تورو له خطاطي او ټکو اېښودلو سره بلد شي.

**پوښتنه**

کله مو د (ک) توری په نستعلیق خط او کړکي قلم خطاطي کړی او ټکو اېښودنه مو کړې ده؟





**فعالیت**

د (ک) توري او د هغه د ليکلو په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته يې پر کړکي قلم له پورتنۍ نمونې سره سم د کرسي خط پر مخ د نستعليق خط له اصولو سره سم په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

د (ک) توری پر پنسل او خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.


**یوولسم لوست**

## د (ل) توري د ټکو اېښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط او کړکي قلم د (ل) توري له خطاطۍ او ټکو اېښودلو سره بلد شي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ چې د (ل) توری له څو ټکو څخه جوړ شوی دی؟
کله مو پر کړکي قلم د کرسي خط پر مخ د (ل) توری پر نستعلیق خط خطاطي کړی دی؟





**فعالیت**

د (ل) توري او د هغه د خطاطۍ په اړوند یو له بل سره بحث وکړئ، وروسته پورتني شکلونه په نستعلیق خط او کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر نستعلیق خط او خودکار قلم د کرسي خط پر مخ مشق او تمرین کړئ.

## دولسم لوست


# د (م) توري د ټکو اېښودنه


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط له اصولو سره سم د (م) توري له خطاطي او ټکو اېښودلو سره بلد شي.

**پوښتنې**

لاندې شکل ته پاملرنه وکړئ او بیا ووایئ چې د (م) توری د کرسي خط په کومه برخه کې دی؟

ستاسو په نظر د (م) توری له څو ټکو څخه جوړ شوی دی؟



**فعالیت**

د (م) توري د ټکو اېښودلو او خطاطۍ په اړوند یو له بل سره مشوره وکړئ، وروسته پورتنی شکل پر کړکي قلم مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتني شکلونه پر خودکار قلم او یا پنسل د کرسي خط له پاسه په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## د (ن) توري د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط پر مخ، پر نستعلیق خط  او کږکي قلم د (ن) توري له خطاطۍ او له ټکو ایښودل سره بلد شي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر، د (ن) توری د کرسي خط په کومه برخه کې دی او له څو ټکو څخه جوړ شوی دی؟

کله مو د (ن) توری د کرسي خط پر مخ پر کږکي قلم خطاطي کړی دی؟



**فعالیت**



د (ن) توري د ټکو ایښودلو او خطاطي په اړوند یو له بل سره مشوره وکړئ، وروسته پورتنۍ نمونه پر کږکي قلم مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.کنید.

**څوارلسم لوست**


## د (و) توري د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط پر کړکی قلم د (و) توری له خطاطي او ټکو ایښودلو سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې**

کله مو پر نستعلیق خط او کړکي قلم د کرسي خط پرمخ د (و) توری خطاطي کړی دی؟

څه فکر کوئ د (و) توري ټکو ایښودل څنګه کیږي؟





**فعالیت**

د (و) توري د ټکو ایښودلو او خطاطی په اړوند بحث وکړئ، وروسته پورتنی نمونه پر کړکي قلم څو وارې په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.

**پنځه لسم لوست**

## د (ه) توری د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ او نستعلیق خط  د "ه" توري پر ټکو ایښودلو وپوهیږي.

**پوښتنې**

کله مو د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د  "ه" توری خطاطي کړی دی؟

ستاسو په نظر، د "ه" توری ته په څو ډوله ټکي ایښودل کیږي او څنګه خطاطي کیږي؟





**فعالیت**

د "ه" توري د ټکو ایښودلو او خطاطي په اړوند یو له بل سره بحث وکړئ، وروسته پورتنی مشق پر کړکي قلم مشق کړئ.

**کورنی دنده**

پورتنی نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.


**شپاړسم لوست**

## د (ی) توري د ټکو اېښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د (ی) توري له ټکو اېښودلو او د کرسي خط پر مخ پر نستعليق خط له خطاطۍ سره آشنا شي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (ی) توری څنګه خطاطي او ټکي يې څه ډول اېښودل کېږي؟
د (ی) توری په شمېر کې څووم توری دی او څنګه خطاطي کېږي؟





**فعاليت**

د (ی) توري ټکو اېښودنه په ژوره توګه په پام کې ونيسئ، وروسته يې پر کړکي قلم د نستعليق خط له اصولو سره سم تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې څو واره مشق او تمرين کړئ.



# دویم څپرکی

## پر نستعلیق خط څو توریزې کلمې

**اولسم لوست**


### د (آرامی) کلمې د ټکو ایښودل


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ په نستعلیق خط د (آرامی) کلمې له ټکو ایښودلو سره بلد شي.

**پوښتني**

کله مو کومه کلمه پر نستعلیق خط خطاطي کړې ده؟

څه فکر کوئ چې د آرامی کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې او ټکي یې څه ډول ایښودل کیږي؟



**فعالیت**

پورتنی نمونه دکرسي خط پر مخ د کتاب له مخې څو واري په خپلوکتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم مشق او تمرین کړئ.

**اته لسم لوست**


## د (استقلال) کلمې د ټکو ایښودنه

**موخه:** د کرسي خط پر مخ د (استقلال) کلمې له خطاطي او ټکو ایښودلو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د استقلال د کلمې ټکي څه ډول ایښودل کیږي؟

څه فکر کوئ د استقلال په کلمه کې څو توري دي او څنګه خطاطي کیږي؟





**فعالیت**

پورتنۍ نمونه د کرسي خط پر مخ او نستعلیق خط  څو وارې په خپلوکتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

پر پنسل او یا خودکار قلم پورتنۍ نمونه په پام کې ونیسئ، بیا یې په خپلوکتابچو کې دتورو ایښودلو په اړه مشق او تمرین کړئ.

**نولسم لوست**


## د (باران) کلمې د ټکو اېښودنه

**موخه:** د کرسي خط پر مخ د باران کلمې له ټکو اېښودلو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د باران په کلمه کې د الف له توري څخه مخکې کوم توری راغلی دی؟
څه فکر کوئ چې د باران کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟



**فعالیت**

د باران کلمې د ټکو اېښودلو او خطاطي په اړه یو له بل سره مشوره وکړئ، وروسته یې د کتاب له نمونې سره سم پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**شلم لوست**


## د (جهان) د کلمې د ټکو ابښودنه


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط له اصولو سره سم د جهان د کلمې پر ټکو ایښودلو او خطاطي پوه شي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د جهان کلمه له کومو تورو څخه جوړه شوې ده؟

څه فکر کوئ، د جهان په کلمه کې د (ج) او (ل) د تورو تر منځ کوم توری موجود دئ؟



**فعالیت**

تاسې هر یو یوه کلمه ووایئ چې په (ج) توري پیل شوې وي، وروسته پورتنی نمونه په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی فعالیت څو وارې پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## یو ویشتم لوست


# د (درمل) کلمې د ټکو ایښودنه


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط د (درمل) کلمې له ټکو ایښودلو او خطاطي سره آشنا شي.

**پوښتني**

ستا سو په نظر، د درمل د کلمې خطاطي او ټکو ایښودنه څه ډول ده؟

کله مو د درمل کلمه خطاطي کړې ده؟



**فعالیت**

په پورتنۍ کلمه سر بېره یوه بله کلمه ووایئ چې د (د) توری پکې راغلی وي، وروسته دواړه کلمې څو وارې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ کلمه څو وارې پر پنسل او یاخودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## دوه ویشتم لوست


## د (روښانیان) د کلمې د ټکو ایښودنه


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ په نستعلیق خط پر کړکي قلم د (روښانیان) کلمې د لیکلو له بڼې سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ، د (روښانیان) په کلمه کې د الف له توري څخه مخکې کوم توری راغلی دی؟

ستاسو په نظر د روښانیان کلمه څنګه خطاطي کیږي؟



**فعالیت**

دپورتنی کلمې د خطاطي پر وخت دې زده کوونکي د ښوونکي د لاس حرکتونو ته ژوره پاملرنه وکړي، وروسته دې هغه پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق کړي.

**کورنی دنده**

پورتنی نمونه څو وارې پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.

## در ویشتم لوست


## د (سمسور) کلمې د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ په نستعلیق خط د (سمسور) کلمې له خطاطۍ سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې**

کله مو د (سمسور) کلمه خطاطي کړې ده؟

ستاسو په نظر د (سمسور) پر کلمې سر بېره نورې کومې کلمې د (س) په توري پیل کیږي؟



**فعالیت**



په ډلو یې وویشئ او هره ډله دې پورتنۍ کلمه په ځانګړې پاملرنې سره پر کړکې قلم مشق کړي، وروسته دې هغه د ټولګي مخې ته راوړي او نوروته دې وړښکاره کړي.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ کلمه څو وارې پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.


## څلور ویشتم لوست

### د (صبر) کلمې د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط پر مخ په د نستعلیق خط له اصولو سره سم پر کړکي قلم د (صبر) د کلمې پر ټکو ایښودلو پوه شي.

**پوښتني**

څه فکر کوئ، د (صبر) کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟
ستاسو په نظر، د (صبر) په کلمې کې څو ټکي کارول شوي دي؟



**فعالیت**

پورتنۍ کلمه څو شیبې په ځانګړي پاملرنې سره وګورئ، وروسته یې پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## پنځه ویشتم لوست


### د (طبیعت) کلمې د ټکو ایښودنه


**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط  د (طبیعت) کلمې له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره آشنا شي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر، د (ط) توری له څو ټکو څخه جوړېږي دی؟

کله مو د (طبیعت) کلمه په جملو کې کارولې ده؟





**فعالیت**

په ډلو یې وویشئ، هره ډله دې یوه کلمه چې په (ط) توري پیل شوي وي، خطاطي کړئ، وروسته یې څو وارې پر کړکي قلم مشق کړئ، خپل تر سره شوي کارونه ننداري ته وړاندې کړئ.

**کورنۍ دنده**

له خپلې خوښې سره سم پورتنۍ فعالیت څو وارې پر پنسل او یاخودکار قلم مشق او تمرین کړئ.

## شپږ ویشتم لوست


# د (عمل) کلمې د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د نستعلیق خط له اصولو سره سم د (عمل)کلمې له ټکو ایښودلو سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتني**

ستا سو په نظر، د عمل کلمه له څو ټکو څخه جوړ شوې ده او څنګه خطاطي کیږي؟

څه فکر کوئ، د (عمل) کلمه دکرسي خط په کومه برخه کې ده؟





**فعالیت**

پر ډلو یې وویشئ هر ډله دې پر پورتنۍ کلمې سربیره یوه بله کلمه ولولي، وروسته دې مشق کړي او ترسره شوي کارونه دې ننداړې ته وړاندې کړي.

**کورنۍ دنده**

پر پورتنۍ نمونې سر بېره له خپلې خوښې سره سم یوه بله کلمه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


## اوه ويشتم لوست

### د (فرهنگ) دکلمې د تڼکو اېښودنه

**موخه:** زده کوونکي به پر نستعليق خط د کرسي خط پر مخ د (فرهنگ) کلمې پر ليکلو وپوهيږي.

**پوښتنې**
ستا سو په نظر، د (فرهنگ) په کلمه کې له (ر) توري مخکې کوم توری دی؟
څه فکر کوئ، په فرهنگ کلمه کې څو ټکي کارول شوي دي؟



**فعاليت**
پورتنۍ فعاليت په ژورې پاملرنې سره وگورئ، وروسته يې پر کړکي قلم مشق اوتمرين کړئ د نستعليق خط له قاعدې سره سم يې بنستيونه په پام کې ونيسئ.

**کورنۍ دنده**
پورتنۍ نمونه پر کړکي قلم او يا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق کړئ.

## اته ویشتم لوست


## د (قلم) توري د ټکو ایښودنه


**موخه:** زده کوونکي به د (قلم) کلمې له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره آشنا شي.

**پوښتنې**

کله مو پر خودکار قلم خطاطي کړې ده؟

ویلای شئ چې په څو ډوله قلمونو مو خطاطي او ټکي ایښودنه کړې ده؟





**فعالیت**

د قلم په هکله کې یوه جمله ولیکئ، وروسته یې پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې خطاطي کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ کلمه پر کړکي قلم، خودکار او یا پنسل په خپلوکتابچوکې مشق او تمرین کړئ.

**نه ویشتم لوست**


## د (کار) کلمې د ټکو ایښودنه


**موخه:** زده کوونکي به د نستعلیق خط له اصولو سره سم دکرسي خط پر مخ د (کار) کلمې له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره آشنا شي.

**پوښتنې**

په لاندې کلمه کې لومړی کوم توری دی او څه ډول خطاطي کیږي؟

ستا سو په نظر، د (کار) د کلمې ټکي پر کړکي قلم څه ډول ایښودل کیږي؟





**فعالیت**

پورتنۍ کلمه داسې مشق او تمرین کړئ چې د قلم حرکتونه پکې مراعات شوي وي.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق اوتمرین کړئ.

**دیرشم لوست**

## د (لاله) کلمې د ټکو اېښودنه


**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط پر مخ د (لاله) کلمې له ټکو اېښودلو سره بلدتیا پیدا کړي.



**پوښتنې**

ستا سو په نظر، د (لاله) کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده او ټکي یې څه ډول اېښودل کیږي؟

کله مو د (لاله) د کلمې خطاطي کړې ده؟





**فعالیت**

پورتنۍ کلمه کرسي خط ته په پاملرنې سره پر نستعلیق خط څو وارې په خپلوکتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

هر یو دې یوه کلمه په خپلوکتابچو کې مشق کړي او په بله ورځ دې ټولګي ته راوړي.

## یو دیرشم لوست


### د (معلم ) کلمې د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ دنستعلیق خط له اصولو سره سم د (معلم) کلمې پر ټکو ایښودلو وپوهېږي.

**پوښتنې**

ستا سو په نظر د (معلم)په کلمه کې څو ټکي کارول شوي دي؟

څه فکر کوئ چې د (ع) توری دکومو تورو ترمنځ راغلی دی او څنګه خطاطي کیږي؟



**فعالیت**



په ډلو یې وویشئ، هر یو دې د (معلم) کلمې په اړوند فکر وکړي، وروسته دې د معلم کلمه په خپلوکتابچو کې مشق کړي، خپل کارونه دې نندارې ته وړاندې کړي.

**کورنۍ دنده**

له خپلې خوښې سره سم یوه کلمه پر کړکي قلم او یا خودکار قلم مشق او تمرین کړئ، بیایې ټولګي ته راوړئ.

**دوه دیرشم لوست**


## د(نور) دکلمې د ټکو ایښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د (نور) کلمې له ټکو ایښودلو سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (نور) کلمه له څو تورو څخه جوړ شوې ده او څنگه یې ټکي ایښودل کیږي؟

کله مو د (نور) کلمه په نستعلیق خط خطاطي کړې ده؟



**فعالیت**



پورتنۍ کلمه وگورئ او بیا یې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ کلمه پر کړکي، خودکار او یا پنسل په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**دری دیرشم لوست**

## د (وحدانیت) د کلمې د ټکو اېښودنه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (وحدانیت) کلمې له ټکو اېښودلو او خطاطۍ سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنه**

په لاندې کلمې کې لومړی او وروستۍ توری کوم یو دی؟
ستاسو په نظر، د (وحدانیت) په کلمه کې له څو ټکو څخه کار اخیستل شوی دی؟






**فعالیت**

د (وحدانیت) د کلمې د ټکو اېښودلو په اړوند یوه جمله ووایئ، وروسته یې پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې څو وارې مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ کلمه پر کړکي، خودکار او یا پنسل په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## څلور دېرشتم لوست

## نقطه گذاری کلمهٔ (همت)

**موخه:** زده کوونکي به پر نستعليق خط دکرسي خط پر مخ د (همت) کلمې له خطاطی او ټکو ايښودلوسره بلدتيا پيدا کړي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ د (همت) کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده او څنگه خطاطي کيږي؟

ستاسو په نظر د (همت) کلمې په خطاطي کولو کې له کومې وسيلې څخه گټه اخيستل شوې ده؟





**فعاليت**

د (همت) کلمې په اړوند يو له بل سره مشوره وکړئ، وروسته يې پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنی نمونه پر خودکار قلم او يا پنسل څو وارې په خپلوکتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**پمځه دیرشم لوست**


## د (یاالله) کلمې د ټکو ایښودنه

**موخه:** د کرسي خط پر مخ دنستعلیق خط له اصولو سره سم به زده کوونکي د یا الله کلمې پر خطاطي او ټکو ایښودلو وپوهیږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (یاالله) کلمه څنګه خطاطي کیږي؟

څه فکر کوئ د (یا الله) کلمه د کرسي خط په کومه برخه کې راغلې ده؟





**فعالیت**

پورتنۍ کلمه د نستعلیق خط اصولوته په پاملرنې پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر خودکار قلم او یا پنسل په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.



# دریم څپرکی

## د نستعلیق خط د جملو خطاطي

**شپږ دیرشم لوست**

### آرامي

**موخه:** د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط پر طریقه د (آرامي) کلمې له خطاطی سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتني**

پر نستعلیق خط مو د جملو لیکل خوښیږي؟

کله مو د کرسي خط پر مخ کومه جمله پر نستعلیق خط لیکلې ده؟





**فعالیت**

پورتنی جمله د نستعلیق خط له اصولو سره سم د کرسي خط پر مخ په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنی دنده**


پورتنی نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## اوه دیرشم لوست

# استقلال

**موخه:** : پر نستعلیق خط د کرسي خط پر مخ د (استقلال) کلمې له خطاطۍ سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنه**
ستاسو په نظر په لاندینۍ جمله کې کومه کلمه د کرسي خط لاندې راغلې ده؟






**فعالیت**
پورتنۍ جمله څو وارې د کرسي خط پر مخ او نستعلیق خط  مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**
دپورتنۍ جملې د کلمو ټکو ایښودلو ته په پاملرنې، پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**اته دېرشم لوست**

## باران

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعليق خط د (باران) دکلمې او د هغې اړوند جملې له خطاطي سره آشنا شي.

**پوښتنې**

ستا سو په نظر د (باران) په کلمه کې د (ر) له توري مخکې کوم توری راغلی دی؟

لاندې جملې ته ژوره پاملرنه وکړئ، هغه کلمې چې د کرسي خط له پاسه راغلي دي په نښه کړئ؟






**فعالیت**

پورتنۍ جمله د تختې له مخې د کرسي خط پر مخ د کلمو ټکو ایښودلو ته په پاملرنې سره په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

هغه جملې چې لومړی کلمه یې د (ب) په توري پیل شوي وي، پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.

**نه دیرشم لوست**

## جهان

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ په نستعلیق خط د جهان کلمې پر خطاطي وپوهیږي.

**پوښتنه**

ستاسو په نظر د جهان کلمه له کومو تورو څخه جوړه شوې او څنګه خطاطي کیږي؟





**فعالیت**

سربیره پر پورتنۍ جملې یوه داسې جمله ولیکئ چې پیل یې د (ج) په توري سره شوی وي، وروسته یې پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله د کرسي خط له پاسه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**څلوېښتم لوست**

## درمل

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط پر مخ په نستعلیق خط  د درمل کلمې له خطاطۍ سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې**

څه فکر کوئ چې د (درمل) کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟

په لاندې جمله کې د کومې  کلمې لپاره ټکي ایښودل شوي دي؟





**فعالیت**

پر پورتنۍ جلمې سربېره یوه بله داسې جمله ولیکئ چې د دوستۍ کلمه پکې راغلې وي.

**کورنۍ دنده**

کرسي خط ته په پاملرنې سره پورتنۍ جمله په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


## يو څلويښتم لوست

## روښانيان

**موخه:** زده کوونکي به پرنستعليق خط  د کرسي خط له پاسه د (روښانيان) کلمې پر ټکو ايښودلو وپوهيږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د روښانيانوپه کلمه کې د (و) له توري مخکې کوم توری راغلی دی او څنګه يې ټکي ايښودل کيږي؟
څه فکر کوئ لاندينۍ جمله څه معنا او مفهوم لري؟






**فعاليت**

پر تختې باندې د پورتنۍ جملې د ليکلو پر وخت د قلم حرکت ته ځانګړې پاملرنه وکړئ، وروسته يې پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر پنسل او يا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرين کړی او بيا خپل کار ټولګي ته راوړئ.

## دوه څلویښتم لوست

### سمسور

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط  د (سمسور) کلمې پر ټکو اینښودلو او خطاطۍ پوه شي.

**پوښتني**

ستاسو په نظر لاندې جمله له څو کلمو څخه جوړه شوې ده؟
څه فکر کوئ کومه کلمه د کرسي خط لاندې راغلې ده؟






**فعالیت**

په ډلو یې وویشئ، هره ډله دې پورتنۍ جملې ته په ژورې پاملرنې سره وګوري بیا دې پر کړکي قلم مشق کړي، وروسته دې نورو ته ور وښایي.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## دری څلویښتم لوست


### صبر

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط د (صبر) کلمې پر خطاطۍ او ټکو ایښودلو وپوهیږي.

**پوښتنې**

ستاسو په نظر د (صبر) کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده؟

په لاندینۍ جمله کې کوم توري د کرسي خط له پاسه راغلي دي؟






**فعالیت**

پورتنۍ جملې ته په ژورې پاملرنې سره وګورئ، وروسته یې پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر پنسل او یا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## څلور څلویښتم لوست

# طبیعت

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط د (طبیعت کلمې په ټکو ایښودلو او خطاطی پوه شي.

**پوښتنه**
ستاسو په اند لاندینۍ جمله په کوم ډول خط خطاطي شوې ده؟






**فعالیت**
په خپلو ډلو کې په پورتنۍ جملې سربېره یوه نوې جمله خطاطي کړئ او نوروته یې ورونښایئ.

**کورنۍ دنده**
له خپلې خوښې سره سم پورتنۍ نمونه په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**پنځه څلویښتم لوست**

## عمل

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه پر نستعليق خط د (عمل) د کلمې پر ټکو ايښودلو او خطاطۍ باندې پوه شي.

**پوښتني**

ستاسو په نظر د (عمل) کلمه د کرسي خط په کومه برخه کې ده؟

څه فکرکوئ چې لاندې جمله څه مفهوم لري؟






**فعالیت**

په خپلو ډلو کې سربېره پر پورتنۍ جلمې يوه بله جمله مشق کړئ، وروسته يې د ټولګي کې ننداړې ته وړاندې کړئ.

**کورنۍ دنده**

له خپلې خوښې سره سمه يوه جمله څو واري پر پنسل او يا خودکار قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

## شپږ شلویښتم لوست

# فرهنګ

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط له اصولو سره سم د(فرهنګ) کلمې له ټکو اینښودلو او خطاطۍ سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې**

کله مو د (فرهنګ) کلمه خطاطي کړېده؟

کومې کلمې دکرسي خط له پاسه اوکومې یې لاندې راغلي دي؟






**فعالیت**

پورتنۍ جملې ته وګورئ، وروسته یې پر کړکي قلم مشق او تمرین کړئ، البته دخطاطۍ اصول یې په پام کې ونیسئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله په کړکي قلم، خودکار قلم او یا پنسل په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**اوه څلويښتم لوست**

## قلم

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ د (قلم) کلمې پر خطاطۍ وپوهيږي.

**پوښتنې**

کله مو د (قلم) کلمه په کومه جمله کې خطاطي کړې ده؟

تاسو په خطاطۍ کې له کوم ډول قلم څخه کار اخلئ؟






**فعاليت**

د (قلم) په هکله يوه جمله جوړه کړئ، بيا يې د کرسي خط له پاسه پر نستعليق خط او کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پر کړکي، خودکار او ياپنسل قلم باندې پورتنۍ جمله مشق او تمرين کړئ.

**اته څلویښتم لوست**


## کار

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د کار کلمې له خطاطی سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنه**

ستاسو په نظر د لاندې جملې څنګه ټکي ایښودل کیږي؟





**فعالیت**

پورتنی جمله د کرسي خط پر مخ پر نستعلیق خط داسې مشق کړئ چې دقلم حرکتونه پکې مراعات شوي وي.

**کورنی دنده**

پورتنی نمونه پر پنسل یا خودکار قلم په خپلوکتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ.

## نه څلویښتم لوست


### لاله

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم د (لاله) کلمې له لیکلو سره آشنا شي.

**پوښتنه**

ستاسو په نظر د لاله کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده او څنګه یې ټکي ایښودل کیږي؟



**فعالیت**

پورتنۍ جلمې د کرسي خط له اصولو سره سم څو وارې پر نستعلیق خط په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

یوه یوه جمله په کور کی جوړه کړئ، بیا یې پر خودکار او یا پنسل قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

## پنځوسم لوست

### معلم

**موخه:** د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (معلم) د کلمې له ټکو اېښودلو او خطاطۍ سره به زده کوونکي آشنا شي.

**پوښتنې**
څه فکر کوئ چې د معلم د کلمې ټکي څه ډول اېښودل کېږي؟
ستاسو په آند د (معلم) کلمه د کرسي خط په کومه برخه کې ده؟






**فعالیت**
په خپلو ډلو کې یوه یوه جمله خطاطي کړئ او بیایې نورو ته وښایئ.

**کورنۍ دنده**
پر پورتنۍ جمله سربېره یوه بله جمله په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بیا یې ټولګي ته راوړئ.

## یو پنځوسم لوست

# نور

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (نور) د کلمې پر ټکو ایښودلو او خطاطۍ باندې پوه شي.

**پوښتنې**

ستاسو په اند د (نور) کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده او ټکي یې څنګه ایښودل کیږي؟

څه فکر کوئ چې کومه کلمه د کرسي خط پر مخ راغلې ده؟






**فعالیت**

پورتنۍ جمله په ژورې پاملرنې سره پر نستعلیق خط مشق کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر کرکي، خودکار او یا پنسل قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.


### دوه پنځوسم لوست

## وحدانيت

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعليق خط د (وحدانيت) د کلمې په ټکو ايښودلو او خطاطۍ پوه شي.

**پوښتنه**

ستا سو په نظر، په لاندې جملې کې څنګه ټکي ايښودل شوي دي؟






**فعاليت**

د وحدانيت کلمې په اړه يوه جمله جوړه کړئ، وروسته له يو بل سره پرې مشوره وکړئ، پورتنۍ نمونه پر کړکي قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ نمونه پر کړکي، خودکار او يا پنسل قلم پخپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

**دری پنځوسم لوست**

## همت

**موخه:** زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط  د (همت) د کلمې پر ټکو ایښودلو او خطاطۍ پوه شي.

**پوښتنې**
څه فکر کوئ، د (همت) کلمه له څو تورو څخه جوړه شوې ده اوڅنګه خطاطي او ټکي يې ایښودل کیږي؟



**فعالیت**



د پورتنۍ جملې په شان یوه بله جمله جوړه کړئ، دواړه جملې دکرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط  په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله په کړکي، خودکار او یا پنسل باندې څو وارې په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## څلور پنځوسم لوست

### یا اللّه

**موخه:** زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (یا الله) د کلمې پر ټکو ایښودلو او خطاطۍ باندې پوه شي.

**پوښتنې**

د لاندې جملې کوم توري دکرسي خط له پاسه اوکوم یې لاندې راغلي دي؟
ستا سو په نظر د نسخ اونستعلیق خطونو تر منځ څه توپیر دی؟






**فعالیت**

پورتنۍ جملې ته ورته یوه بله جمله جوړه کړئ، بیا یې په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ، خپل بشپړ شوي کارونه ټولګي ته راوړئ.

**کورنۍ دنده**

پورتنۍ جمله پر پنسل او یاخودکار قلم په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

## دویمه برخه
## د حسن خط د تدریس لارښود

### لومړی لوست

### مخ (۱)

د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه) لومړی ساعت

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | د (آ، ا) توري | |
| عمومي موخې | د کرسي خط له پاسه د (آ، ا) توري له خطاطي سره دزده کوونکو بلدتیا | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- دکرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (آ، ا) تورو له خطاطی او ټکو اینښودلو سره د زده کوونکو بلدتیا.<br>- دکرسي خط له پاسه د (آ، ا) تورو لیکل وکړای شي<br>- د کړکي قلم په واسطه د تورو له لیکلو سره مینه پیدا کړي | |
| د تدریس لارښود | څانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشوانې، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | ښوونکی دخپل ډاډ دتر لاسه کولو لپاره چې زده کوونکي د(آ) پر خطاطي پوهیدلي دي که نه؟ له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي او دهغوی ارزونه کوي. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، دنوي کال مبارکي، د حسن خط په اړوند خبرې او دتېر کال لوست یادونه او له نوې لوست سره یې اړیکه ورکول | ۵ دقیقې |
| | انګیزه وي پوښتنې<br>کله مو د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د (آ، ا) توري خطاطی کړې دي؟ | ۵ دقیقې |

| وخت | د ښوونکي فعالیتونه |
| --- | --- |
| ۳۵ دقیقې | •زده کوونکو ته پر کړکي قلم د (آ،ا) تورو د حرکتونو او ټکو اېښودلو په اړوند لارښوونه وکړئ.<br>•د کرسي خط پر مخ د نستعلیق خط ګټې زده کوونکو ته ور زده کړئ<br>زده کوونکو ته لارښوونه وکړئ چې پر کړکي قلم ځو وارې جملې مشق او تمرین کړي. |

**کورنۍ دنده:** د کتاب له مخې څو وارې د کرسي خط له پاسه د (آ، ا) توري په خپلو کتابچو کې خطاطي کړئ.

**اضافي معلومات**

لکه څنګه مو چې تېر کال د څلورم ټولګي د حسن خط په کتاب کې د خط پر ډولونو، اصولو او قاعدو بحث وکړ، دا دی د دې کتاب په لوستونو کې هم د نستعلیق خط دقاعدو، اصولو او د کرسي خط پر مخ پر کړکي قلم د خطاطي په اړه معلومات وړاندې کيږي، پر نستعلیق خط د الفبا تورو د ټکو اېښودل یو اصل دی، په ځانګړي ډول پر کړکي قلم د ټکو اېښودلو په واسطه اندازه کيږي، لکه چې د پنځم ټولګي په لومړي لوست کې د (آب) کلمې الف درې ټکي، په مد کې درې ټکي او د ب په توري کې پنځه ټکي د کړکي قلم په څوکه دنستعلیق خط اصولو ته په پاملرنې یې ټکي اېښودل شوي دي او د خط ښکلا یې زیاته کړېده

## پنځم لوست

### مخ (۵)

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | د (س، ص) توري | |
| عمومي موخې | زده کوونکي به د (س، ص) تورو له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره بلدتیا پیداکړي. | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | - له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- د کرسي خط له پاسه به پر نستعلیق خط د تورو پر خطاطي او ټکو ایښودلو وپوهیږي.<br>- زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه پر نستلعیق خط د (س، ص) تورو خطاطي وکړای شي.<br>- زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم د تورو له خطاطۍ او ټکو ایښودلوسره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس لارښود | ځانګړې او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشواني، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | ښوونکی د خپل ډاډ د تر لاسه کولو او د لوست دپیاوړتیا لپاره د زده کوونکو ارزونه کوي. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، دتیر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې اړیکه ورکول | ۵ دقیقې |
| | انګیزه وي پوښتنې<br>کله مو د (س، ص) توري د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم خطاطی کړي دي؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
|---|---|
| • <br>• پرکړکي قلم د نستعلیق خط ټکو ایښودل زده کوونکو ته ور زده کړئ.<br>• د کرسي خط له پاسه د (س، ص) تورو پر نستعلیق خط خطاطي او ټکو ایښودلو په اړوند یې زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>• زده کوونکي به پر تختې د (س، ص) توري د کتاب له مخې خطاطي او ټکو ایښودل وکړای شي او د سمو لیکلو په اړوند یې زده کوونکو ته لارښوونه وکړئ.<br>• د دوی بشپړ شوي کارونه و ارزوئ. | ۳۵ دقیقې |

**کورنۍ دنده:** په اتم لوست کې د (س، ص) تورو تر سر لیک لاندې ټکو ایښودلو ته ژوره پاملرنه وکړئ او وروسته یې په کتابچو کې مشق کړئ.

**اضافي معلومات**

لکه څنګه مو چې د دې کتاب د تیرو لوستوتو په تورو، کلمو او جملو کې د کرسي خط له پاسه له خطاطۍ او ټکو ایښودلو څخه یادونه وکړه. د (س، ص) تورو تر سر لیک لاندې د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم خطاطي او ټکي ایښودل شوي دي، کولای شئ، د ټکو ایښودلو او کچې په اړوند ټکو ایښودلو ته ژوره پاملرنه وکړئ او ټکي یې حساب کړئ، د نستعلیق خط اصولو او قاعدو ته په پاملرنې سره زده کوونکي وهڅوئ، تر څو وکولای شي ستاسو په مرسته د نستعلیق خط اصول او قاعدې زده کړي، په خپلوکتابچو کې یې مشق او تمرین ته پاملرنه وکړي.

## پنځه دیرشم لوست

### مخ (۳۵)

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست سر لیک | د (یارب) کلمې لیکنه | |
| عمومي موخې | د کرسي خط له پاسه د (یارب) کلمې له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره به زده کوونکي بلد شي. | |
| د زده کړې موخې<br>- پوهېږې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي:<br>- د (یارب) کلمې پر خطاطۍ او ټکو ایښودلو وپوهیږي.<br>- دکرسي خط پر مخ د (یارب) کلمه خطاطي او ټکو ایښودل وکولای شي.<br>- د کرسي خط پر مخ پر کړکي قلم د (یارب) کلمې خطاطۍ او ټکوایښودلو سره مینه پیداکړي. | |
| د تدریس لارښود | ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه | |
| دتدریس وسایل | کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشواني، خط کش، قط زن | |
| د ارزونې لاره | ښوونکی د خپل ډاډ د ترلاسه کولو لپاره زده کوونکي ارزوي | |
| لومړني فعالیتونه | سلام ورکول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، دتېر لوست یادونه او له نوې لوست سره یې اړیکې ورکول | ۵ دقیقې |
| | انګیزه وي پوښتنې<br>کله مو د (یارب) کلمه په یوې جمله کې خطاطي کړې ده؟ | ۵ دقیقې |

| وخت | **د ښوونکي فعالیتونه** |
| --- | --- |
| ۳۵ دقیقې | • د یارب کلمه په یوې جمله کې د تختې پر مخ ولیکئ.<br>• دیارب کلمې اندازه اوټکو ایښودنه زده کوونکو ته عملاً ور وښیئ.<br>• دکرسي خط پر مخ د یارب کلمې خطاطي زده کوونکو ته ور زده کړئ.<br>• د زده کوونکو د کارونو ارزونه او سمونه وکړئ. |

**کورنۍ دنده:** د درسي کتاب لوست په ژورې پاملرنې سره په خپلوکتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

**اضافي معلومات**

داسلامي خطونو د پیدایښت په اړوند لنډ معلومات:

۱) کوفي خط. ۲) محقق خط. ۳) ثلث خط.

٤) د نسخ خط. ۵) نستعلیق خط . ٦) دیواني خط.

۷) شکسته خط. ۸) رقع خط.

خودکارونې له مخې یې ترتیب په دې ډول دی:

د ښوونکو دزیاتو معلوماتو لپاره په دې کتاب کې هر یو خط په لنډه او مختصر ډول در پېژنو.

۱) کوفي خط: دا خط د اسلامي خطونو په لړۍ کې د پیدایښت له پلوه لومړی مقام لري، خو نن ورځ د کارونې له مخې وروستی دی. خو د ښکلا له پلوه چې توري یې په عمودي او افقي ډول سره یو ځای د لیکونکي له طبیعت سره برابر دی. ټکي، حرکتونه و علامې یې د خط ښکلا زیاتوي.

د کوفي خط د تسمیې وجه: کوفي ته یې د جزم، انباري، خبري، حجازي نومونه ورکړي دي.

لکه: څنگه چې جرم د قطع په معنا دی چې له مسند حمیدي خط څخه چې یو پخوانی خط دی قطع او جلا شوی دی، د نورو خطونو پیژندنه د نورو ټولگیو په درسي کتابونو کې په پام کې نیول شوي دي.

**د نستعلیق خط پیدایښت**

نستعلیق خط له دوو عربي کلمو (نسخ) او (تعلیق)عربي (نسخ) و (تعلیق) مرکبه ده چې د فارسي لیکنې د خط پر نوم یادیږي.

نسخ: د باطل او راگر ځول شوي په معنا دی، هم د یو ډول خط نوم دې چې پر هغې کتابونه لیکي، دا خط د څو نورو خطونو لکه: محقق، ریحان، ثلث او تقیع زیږوونکي دی.

تعليق: د يوه شي پر بل دځوړندیدو او یاهم پر یوه کتاب باندې د یادداشتونو او لیکونو په معنا او مفهوم دی او هم د یو ډول خط نوم دی چې له دوو او اسلامي خطونو (راع او توقیع) څخه راوتلی دی.

نستعلیق خط د نسخ او تعلیق ترکیب شوی خط دی، باید په دې و پوهیږو چې نستعلیق خط د نسخ اصل دی چې خطاطانو پکې تصرف کړی، سطح کاف د الف په لیږدول او د (ی، ل، س، لام او نون تورو په له منځه وړلو، د قوسي سین او مداتو په زیاتوالي یې له نورو خطونو څخه ترلاسه کړ نړیوالی او ناز کوالی یې پکې مراعات کړی دی او له هغه یې یو بل خط جوړ کړ چې د نسخ تعلیق پر نوم یې نومولی دی. ملکي کسانو د وخت په تېریدو ځینې تصرفات پکې وکړل، لړیې نازک کړ، د دې لپاره یې اصول او قاعدې وټاکلې، تر څو چې دا خط یې کمال ته ورسوه.

نستعلیق خط چې تاسې ورسره بلد تیا لری، د اسلامي خطونو له ډیرو ښکلو خطونو څخه دی.

**د خط تعریف او اهمیت:** خط د لغوي معنا له مخې پر قلم لیکلو ته وایي، په صنعت او د قلم د خاوندانو په عقیده خط په ترکیبونو او جملو کې د تورو سم لیکل، همدا رنګه په ځانګړي ډول د تورو ښکلي او سمو لیکلو ته ویل کیږي. په بل عبارت خط د لاس ژبه ده، د زړه سیفر او د اما نتونو او آثارو ساتونکی دی.

د خط فن (علم له پلوه صفت او هنر دی) چې د ښوونې او روزنې په پروسه کې زده کیږي.

د خط او اهمیت په اړوند باید یادونه وکړو، که چیرې خط نه وای، پخوانیو آثارو به هم په نړۍ کې شتون نه درلود.

**د ښکلي خط لیکنې وسایل:** د نورو هنرونو په شان د خطاطي لپاره هم ځانګړو وسایلوته اړتیا ده، تر څو چې اړین وسایل نه وي، د پرمختګ هیله یې هم نه شي کیدای، د ښو وسایلو درلودل له یوه ښوونکي کم نه وي، په هر صورت ځینو وسایلو، لکه: قلم، قلم تراش، قط زن، مشوانۍ، مقطرې او به، رومي تیره، خاک بیزه، وریښمینه ټوټه، کاغذ، ټول دښکلي لیک د لیکلو وسایل دي چې په پخوانیو زمانو کې له دې هر یوه څخه کار اخیستل کیده، نن ورځ د دې ټولو اړتیا نشته، بیا هم ټول تشریح کوو، تر څو زده کوونکي له هغه سره آشنا یې پیدا کړي.


**۱:- کړکي قلم**

د کړکي قلم دښې او ښکلي لیکنې ډیره ښه وسیله ده، قلم د قطع په معنا دی، څنګه چې تراشل شوی دی، باید د هغې په تراشلو کې پاملرنه وشي، هر څوک چې دکړکي قلم ښه تراش کړي، نو د خط لیکل ورته آسانیږي.


**دقلم د تراشلو په اړوند بایدخلورو ټکو ته پاملرنه وشي.**

الف:- فتح (د کړکي قلم دمخ لرې کول).


ب:- نحت (دکړکي قلم د څنگ تراشل).
ج:- فاق (د کړکي قلم سور يې کول).
د:- د کړکي قلم د سر پرې کول.
که چيرې د کړکي د ځينو قلمونو څټ لږ نازک شي، که څه هم دا دپنډو کړکو ځانگړتيا ده، که دې ته پاملرنه وکړو، نو ټول پنځه ټکي کيږي.
**الف:- فتح:** د کړکي قلم د ميدان لپاره د قلم تراشل دي قلم تراش ته مساوي فشار ورکړو، تر څو چې د قلم سر ننوزي، تر څو د کړکي قلم ميدان د قلم د قطر په اندازه شي د قلم ميدانی بايد ډير لوړ نه وي،ځکه چې د لاس قدرت کموي او قلم ژر ماتيږي او نه هم ډير لنډ وي چې د کاغذ پر مخ د زيات مرکب درمل او خط خراب کړي.



**ب:-** د قلم د څنگ په تراشلو کې دا رمز دی چې د قلم دوه څنگونه نسبت د قلم سر ته مساوي وي.




**ج:- شق:** د کړکي قلم د سختوالي او سستوالي په اړوند يې بايد منځنی حالت غوره شي، دا سې منځنۍ حالت اړين دی چې نه سخت او نه هم سست او د قلم د ميدان په نمايي کې د (۲/۳) فاق وهل شي، که زيات شي د قلم که دوه ځايه کيږي او خط خرابوي، په سختو قلمونو کې فاق د قلم د ميدان په کچه وي، په سستو قلمو نو کې (۱/۳) او (۱/۲) کچه ټاکل شوې ده، د قلم فاق بايد د قلم په منځنۍ برخه کې پروت دي، تر ځو چې دوې ژبې يې جوړې شي.
(واحشي او انسی): ښي بلو ژبې ته يې وحشي او کينې خواته يې انسي وايي، د قلم ښي خوا ژبې او نېش ته يې وحشي او د قلم کينې خوا ژبې او نيش ته انسي ويل کيږي.



**د:- د کړکي قلم قط:** اصلي قط، قطع ده، د قلم سر د پلنوالي له خوا يې پر مخ قطع زن کيږدئ، تر څو چې صاف او له غيب پر ته پرې شي، هغه غږ چې د کړکي قلم له قطع کولو څخه پورته کيږي باید يو ښه غږ وي.








**ه :- د کړکي قلم د څټ او يا شه پريکول:** د قلم په څو که کې قلم تراش کيږدئ، او فشار ورکړئ چې په پوستکي کې ننوزي، وروسته ورو ورو قلم تراش ته د څو کې خواته حرکت ورکړئ، د کړکي قلم د شا پريکول د دې لپاره دی، چې د قلم څوکه له دواړو خواو يو شان وي. او ښه کار وکړي او هم د مرکب لپاره سم ځای وي، تر څو په يو وار د کاغذ پر مخ راکش نه شي، د غټ کړکي قلم د شا پريکولو اړين دي.




**۲:- قلمتراش**

د دې لپاره چې کړکي قلم له اصولو سره سم و تراشل او یا جوړشي، دوو قلمتراشو ته اړتیا ده، یو د قلم د پلنوالي د کمولو لپاره چې باید محکم او اوپلن وي، تر څو چې د کړکي قلم پلنوالی هوار راشي، د کړکي قلم د څنګونو د خالي کولو لپاره چې نری وي، تر څو چې سر او ژبه يې نری او د کوترې د لکۍ په شان وي، لکه چې ویلې یې دي: هغه څوک یې ښه لیکلای شي چې تیره او تېز قلم تراش ولري.



**۳:- قطع زن**


قطع زن باید صاف او سخت وي او هغې آلې ته ویل کیږي چې له کلک لرګي او یا هډو کي څخه جوړ شوی وي، لکه: آبنوس (یو ډول ونه ده چې لرګي یې کلک او سخت دي چې د کړکي قلم په قطع کولو او یا پری کلو کې ور څخه ګټه اخیستل کیږی.



**٤:- مشوانۍ (لیقه او مرکب)**

د لیقه نوم هغه وخت ورته ویل کیږي چې پر مرکب ککړ او په مشوانۍ کې پروت وي. د مشوانۍ سر باید پرانیسی او د رګۍ وي.

لیقه له څو پیچلو اوو ریښمینو تارونو څخه عبارت ده چې په مرکب کې واچول شي، ګټه یې داده چې په مشوانۍ کې د رنګ له توئیدو څخه مخنیوی کوي، کړکي قلم ته په خپله اندازه رنګ ورکوي لکه: چې مشوانۍ په فرهنګ پورې اړه لري، له دې امله یې په ساتنه باید کوښښ وشي.




**٥:- لړومی (الت بهم زدن):** هغه آله یا وسیله ده چې رنګ په دې لړل کیږي، یا رنګ ته پرې شور ورکول کیږي.

**٦:- مقطرې اوبه:** د رنګ په ترکیب کې د عادي اوبو پر ځای له مقطرو اوبو څخه ګټه اخیستل کیږي چې هغه د (بلو) په نوم هم یادوي.

**٧:- رومي تیره:** داسې تیره ده چې قلم تراش پرې تېز وي.

**٨:- خاورو چڼوونکی:** دململ یوه ټوټه ده چې خاورې پرې چڼول کیږي چې د البک پر نوم هم یادیږي، د اړتیا پر وخت له هغه څخه د کاغذ پر مخ د رنګ وچولو کار اخلي.

**٩:- دحریر ټوټه:** یوه نرمه و ریښمینه ټوټه چې د قلم د وچولو پر وخت ور څخه ګټه اخیستل کیږي.

**١٠:- مسطر:** داسې یو چوکات دی چې په ټاکلی فاصله کې پکې ټاکلي رشته یې تارونه اچول کیږي، چې نن ورح ور څخه کار نه اخیستل کیږي او پر ځای یې له خط کش څخه ګټه اخیستل کیږي.

**١١:-دکاغذ لاندې اچوونکی ټوټه:** ټوټه یا مقوا چې د لیکلو پر وخت له کاغذ څخه لاندې کیږي.

**١٢:- کاغذ:** سپین یا رنګه کاغذ، خو چې رنګ نشر نه کړي، هغه کاغذونه چې په خطاطی کې ور څخه ګټه اخیستل کیږي. لکه: شفاف د ترس کاغذونه، ډبل کاغذونه، (٢٠٠) ملي ګرامه سپین جلا لرونکي کاغذونه او نازک جلا دار کاغذونه دي.

## دښکلي خط ليکلو پړاوونه

د مشقي او ښکلي خط ليکل او تمرين درې پړاوه لري: قلمي، نظري او ذهني.

**۱:- قلمي:** د کرکي قلم په واسطه د کلمو نقل کول دي.

**۲:- نظري:** دښوونکي د تورو، کلمو او خطونو پر مخ دقلم کش کولو ته پاملرنه او دقت، همدا رنگه دهغې تاوول اوحرکات دي چې په ليدلو تر سره کيږي او د زده کوونکي په ذهن اغيزه کوي.

**۳:- ذهني:** هغې خطاطۍ ته ويل کيږي چې تمرين کوونکی د خط له اچولو سره آشنا او يو له بل سره د تورو يو ځای کول او له نمونې څخه له تقليد پرته له خپل ذهن، په مينه عبارتونه وليکي، تر څو د خپل خط د ښکلا کچه وارزوي.

زده کوونکو ته يې زده کول اړين دي چې دښوونکي لارښوونو تورو، کلمو ته پاملرنه وکړي. په پوره صبر او حوصلې سره دنمونې کچه او اندازه نقل اوتکرار کړي، يوازې له سر مشق پرته له ځانه څه ونه ليکي، په پر له پسې توگه دښوونکي لارښوونې په پام کې ونيسي. اړينه ده چې دمشق او تمرين د قلم څوکه د نمو نوي خط په اندازه جوړکړي، د هغو نمونو له پيروی څخه چې مسلکي نه وي، ډډه وکړئ.

وروسته له هغه چې خط يې قوت واخلي، له ځانه کلمې او عبارتونه وليکي، دښوونکي له خط او نمونو سره يې پر تله کړي، د ښوونکي نظر ته يې وړاندې کړي، ډېره پر زړه پورې ده چې زده کوونکي له متابعت څخه سر غړونه ونه کړی، د هغې لارښوونې په پام کې ونيسي، په ټولو حالاتو کې پاکۍ او نظافت ته پاملرنه وکړي. د خط وسايل پاک او په ترتيب سره يې ځای پر ځای کړي، په ليکلو کې ډيره مبالغه و نه کړي چې خپه او ستړي نه شي، او همدا رنگه دې په ليکلو کې تلوار ونه کړي.

## دخط عمومي گټې

موږ پوهيږو چې ټول اسلامي خطونه له يوه اصل اخيستل شوي، اصل يې هغه الفبا ده چې له هندسي شکلونو او يا هغو شکلونو څخه چې په طبيعت کې شتون لري، اخيستل شوي يا د هغو خطونو تعقيب دی چې ډول ډول خطونه په بېلا بيلو ټولنو کې شتون لري، له دې امله يې ټول اسلامي خطونه له يوې ريښې او اصل څخه سرچينه اخلي، له دې امله ټول اسلامي خطونه څلور قاعدې لري او هره قاعده يې څو برخې لري، چې دلته يې مطالعه کوو.

۱:- اصول: چې يوولس برخې لري.

قوت – ضعف – سطح – دور – مجازي صعود – مجازي نزول – حقيقي صعود – حقيقي نزول – د سواد رعايتول، د دايرو او غوټو سپنوالی، د الفبا د ډلبندۍ ليږل

۲:- نسبت: څلور برخې لري.

۳:- ترکيب: لس برخې لري.


په یو شکل مفرداتو کې یو ډول لیکل – مشابه مرکبات – د مفرداتو دمرکباتو او اندامو تناسب – اندازې اخیستل یاټاکلي نورمونه.

په تورو او کلمو کې ترکیب، په کرښه او جمله کې ترکیب، دټولو مخونو په کرښو کې د ترکیب په پام کې نیول، څپرکو ته پاملرنه، د قلم سنجش، په مجاورت او نظم کې اعتدال، دمشوانۍ او دهغه د ځای په پام کې نیول، د مرکباتو په طریقو پوهېدل، د حرکاتو په پام کې نیول، د ګرامري ټکو او نښو ایښودلو ته پاملرنه.

٤:- کرسي: دوې برخې لري.

دپورتنۍ، منځنۍ اولاندینۍ کرسي په پام کې نیول (قرینه سازي)

یادونه: یوه بله برخه چې په دوو قاعدو (اصول، ترکیب) پورې اړه لري، د قلم د نیولو طریقه او دقلم د کش کولو او د مرکب په پام کې نیول.






**محترم ښوونکی: د هر لوست لپاره د دې پلان له لیکلوڅخه ډډه شوې ده، تاسې کولای شئ د ښوونکي لارښود له دې پلان څخه د دې کتاب په ټولو درسونو کې ګټه واخلئ.**

**یادونه: د دې کتاب هغه درسونه چې ډېر وخت نیسي، کولای شئ په درو ساعتونو تدریس کړئ.**